## د ښوونې او روزنې پوهنځی او پښتو څانګه:

### لنډه تاریخچه:

په افغانستان کې د ښوونې او روزنې پوهنځی په ۱۳۱۱ل کال کې په کندهار کې پښتو ادبي انجمن جوړ سو. ۱۳۱۶ل کال کې دغه ادبي انجمن کابل ته انتقال سو او پښتو ټولنه ترې جوړه سوه. په ۱۳۲۳ لمریز کال کې د ښوونې او روزنې پوهنځی په کابل کې تاسیس سوه.

د بُست پوهنتون په چوکاټ کې د ښوونې او روزنې پوهنځی په ۱۳۹۷ لېږدیز لمریز کال کې د لوړو زده کړو له محترم وزارت څخه د فعالیت جواز تر لاسه کړی دی او په ۱۳۹۹ کال کې یې په فعالیت یې پیل کړی دی؛ د ښوونې او روزنې پوهنځی په خپل تشکیل کې اته څانګې ( پښتو،دري، کیمیا، فزیک، ریاضي، بیولوژي، چاپېریال ساتنه او اسلامي فرهنګ ) لري.

د بُست پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی پښتو څانګې په ۱۳۹۹ل ل کال کې د بُست پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی په چوکاټ کې خپل فعالیت پیل کړی دی. یاده څانګه د لیسانس په کچه محصلین روزي چې په دې څانګه کې د لیسانس دوره څلور کاله او اته سمستره ده. چې له پیله تر پایه ځانته ځانګړی کریکولم لري او ټول تدریسي مفردات یې د لوړو زده کړو د محترم وزارت له لوري تائید دي.

د ښوونې او روزنې پوهنځی پښتو څانګه د تأسیس له وخته تر اوسه د پوره شفافیت او لوړ کیفیت لرونکې ده. او په ښه ډول یې ټولې علمي چارې مخته ځې، د ښوونې او روزنې پوهنځی په پښتو څانګه کې د تدریس پروسه د با تجربه ماستر او لیسانس استادانو په مټ پر مخ وړل کیږي. دا چې د ښوونې او روزنې پوهنځی پښتو څانګې نوی په فعالیت پیل کړی دی، نو تر دې مهال یې د ټولنې د خدمت لپاره فارغ محصلین نه دي وړاندي ګړي.

### د ښوونې او روزنې پوهنځی پښتو څانګې لیرلید او ماموریت:

#### د پښتو څانګې لیرلید (Vision):

د بُست پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی پښتو څانګه غواړي چې په نږدې راتلونکې کې پښتو څانګه په یوه معیاري څانګه بدله کړي. همدارنګه غواړي چې ټولنې ته د نویو څېړنو په اساس د پښتو ادبیاتو د غني کېدو په موخه د اړتیا وړ مواد برابر کړي، تر څو د پښتو ادبیاتو په برخه کې علمی کادرونه، لیکوالان او شاعران وروزي.

#### د پښتو څانګی ماموریت (Mission):

د بُست پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی پښتو څانګه د پښتو ادبیاتو د هر اړخیز پرمختګ لپاره په اسلامي عقایدو او انساني کرامت سمبال، دندي او مسلک ته ژمن شخصیتونه ټولنې ته وړاندي کوی.

### د څانګې د علمي پروګرامونو پیژندنه:

د ښوونې او روزنې پوهنځی په خپل تشکیل کې اووه څانګې (پښتو ادبیات، دري ادبیات، کیمیا، ریاضي، فزیک، چاپېریال ساتنه او اسلامي فرهنګ) لري، چې له هغې جملې څخه یوازې د پښتو ادبیاتو څانګه د اوس لپاره فعاله ده. او همدارنګه په دې پوهنځی کې د تدریسي بهیر تر څنګ برحاله او فارغ التحصیل محصلینو ته په مختلیفو برخو کې لنډ مهاله مسلکي کورسونه، ورکشاپونه، علمي سمینارونه او کنفرانسونه په لاره اچول کیږي.

## د څانګې د تحصیلي نظام، استادانو او کارکونکو په اړه معلومات:

د ښووني او روزني پوهنځی پښتو څانګې ټول تدریسي بهیر او پروګرام د کریډیت سیستم د لایحې مطابق
(52%) اختصاصي مضامین
(33%) اساسي مضامین
(13%) عمومي یا پوهنتون شموله مضامین
او پاته
(2%) اختیاري مضامین شامل دي.

چې د کریکولم په تطبیق سره په کال کې (2) سمستره بهاري او خزاني تدریسیږي، چې هر سمستر یې بغیرله ازموینو څخه 16 اونۍ او هر تدریسي ساعت یې 50 دقیقې دی. یاده مکمله دوره (156) کریډیټه تدریسیږي. د لایحې له مخې هر سمستر د (17) کریډیټونو څخه کم او له (21) کریډیټونو څخه زیاتېدلای نه سي. او همدارنګه په دې څانګه کې د ډیپارټمنت امر، تدریسي مدیر او استادان چې د لیسانس او ماستر په کچه یې زده کړې کړې دي د یاد پوهنځی اداري او تدریسي چارې مخته وړي.

پښتو څانګه د ښووني او روزني پوهنځی په دیپارتمنتي تشکیل کې د پیل څخه تر پایه بیل بیل واحد کریکولم لري. یعني یاده څانګه له نورو څانګو څخه بیل او جلا څلور کلنه تحصیلي دوره لري.

## د ښووني او روزني پوهنځی پښتو څانګې د فارغ التحصیل روښانه تعریف:

د بُست پوهنتون د ښووني او روزني پوهنځی پښتو څانګه د مسلکي او متخصصو کادرونو د روزني په موخه ایجاد سوې، په دې اساس څانګه هغه شخص د خپل لیسانس دورې فارغ التحصیل بولي چې د پښتو په ډیپارټمنټ کې 156 کریډیټونه یې په یوه څلور کلنه تحصیلي دوره (۸ سمسترونو) کې پوره کړي او د پوهې، وړتیاوو او چلند په برخو کې د لاندې شرایطو درلودونکی وي.

۱ـ د پښتو څانګې فارغ التحصیل به په دې وتوانیږي، چې په راتلوني کې په ادبي او ژبني ښوونیزه، روزنیزه او څېړنیزه برخه کې د مسلک مطابق لاسته راوړني ولري. او هم به د یو مسلکي ښوونکي په حیث د هیواد راتلونکی نسل په ښه ډول وروزي او تر ډېره حده د خپل هیواد په فرهنګي، اجتماعي، تاریخي، کلتوري، ادبي او اسلامي برخه کې د خدمت جوګه وګرځي.

۲ـ د وړتیاوو په برخه کې: د پښتو څانګې فارغ التحصیل داسي یو شخص دی چې د اړتیا تر کچې له ادبي او ژبني ښوونیزو، روزنیزو، څېړنیزو او اداري موضوعاتو سره آشنایي لري او په دې برخه کې د خپلو ستونزو د حل توان لري.

۳ـ د چلند په برخه کې: د پښتو فارغ التحصیل داسي یو شخص دی چې د خپلو تخصصي مضمونونو (ادبي او ژبني ښونیزو، روزنیزو،څېړنیزو) او مسلکي مضمونونو له منځپانګې څخه یې د هیواد و نافذه قوانینو ته درناوی، اکاډمیک اخلاق، هیوادپالنه، لوړ اسلامي، انساني، کلتوري، افغاني او اخلاقي ارزښتونه یې زده کړي دي او ټولو ارزښتونو ته ژمن او د هر ډول تعصب او توپیري چلند څخه خلاص وي.

د پښتو څانګې څخه فارغ سوی محصلین به په دې وتوانیږي، چې په ادبي، ژبني، اداري، ښوونیزو، روزنیزو او څېړنیزو مسائیلو او موضوعاتو وپوهیږي، همدارنګه د بُست پوهنتون په اسنادو او ډیپلوم د هیواد په ګوټ ګوټ کې په هر دولتي او خصوصي سکتور کې منل کیږي او همچنان موږ په دې ویاړو چې زموږ اسناد د نړۍ په هر پوهنتون کې د ماسټرۍ او دوکتورا د پروګرامونو او زده کړو لپاره د اعتبار وړ دي.

| اول سمستر | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کڼه | د مضمون نوم | مضمون کود | د کریډیت تعداد | د ساعتونو تعداد | | | ملاحظات |
| | | | | نظري | عملي | مجموعه | |
| 1 | فونولوژي | LIPA 111 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 2 | د ژبپوهنې بنسټونه | LIPA 112 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 3 | ګرافیم (لیک پوهه) | LIPA 113 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 4 | عمومي ارواپوهنه | PRPS 114 | 3 | 30 | 18 | 48 | مسلکي |
| 5 | انګریزي | LIEN 115 | 2 | 28 | 4 | 32 | عمومي |
| 6 | کمپیوټر | COM 116 | 2 | 20 | 12 | 32 | عمومي |
| 7 | د اسلام اعتقادي نظام | SL.IC.0171 | 2 | 32 | 0 | 32 | ټول شمول |
| 8 | تلاوت او تجوید | SL.IC.0172 | 1 | | 2 | 32 | ټول شمول |
| 9 | دری | LIDR 118 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختیاري |
| **د ساعتونو او کریډیټونو مجموعه** | | | **19** | **200** | **90** | **320** | |

| دوهم سمستر | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کڼه | د مضمون نوم | مضمون کود | د کریډیت تعداد | د ساعتونو تعداد | | | ملاحظات |
| | | | | نظري | عملي | مجموعه | |
| 1 | د ادبپوهنې بنسټونه | LIPA 121 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 2 | د لیکوالۍ فن | LIPA 122 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 3 | مورفولوژي | LIPA 123 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 4 | بدیع | LIPA 124 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 5 | انکشافي اروایوهنه | PRPS 125 | 2 | 20 | 12 | 32 | مسلکي |
| 6 | بدني روزنه | PHE 126 | 2 | 20 | 12 | 32 | عمومي |
| 7 | انګلیسي | LIEN 127 | 2 | 28 | 4 | 32 | عمومي |
| 8 | د اسلام عبادتي نظام | SL.IC.0273 | 2 | 32 | 0 | 32 | ټول شمول |
| 9 | سیرت | SL.IC.0274 | 2 | 32 | 0 | 32 | ټول شمول |
| **د ساعتونو او کریډیټونو مجموعه** | | | **21** | **242** | **94** | **336** | |

| دریم سمستر | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | د مضمون نوم | مضمون کود | د کریډیټ تعداد | د ساعتونو تعداد | | | ملاحظات |
| | | | | نظري | عملي | مجموعه | |
| 1 | ادب تاریخ | LIPA 231 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 2 | متن نظم و نثر | LIPA 232 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 3 | عرفاني ادبیات | LIPA 233 | 2 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 4 | نړۍ ادبیات | LIPA 234 | 3 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 5 | بیان | LIPA 235 | 3 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 6 | تربیتي ارواپوهنه | PRPS 236 | 4 | 30 | 18 | 48 | مسلکي |
| 7 | د اسلام اخلاقي نظام | SL.IC.0375 | 3 | 32 | 0 | 32 | ټول شمول |
| 8 | د اسلام ټولنیز نظام | SL.IC.0376 | 2 | 32 | 0 | 32 | ټول شمول |
| 9 | انګلیسي | LIEN 238 | 2 | 28 | 4 | 32 | عمومي |
| **د ساعتونو او کریډیټونو مجموعه** | | | **21** | **232** | **88** | **320** | |

| څلورم سمستر | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | د مضمون نوم | مضمون کود | د کریډیټ تعداد | د ساعتونو تعداد | | | ملاحظات |
| | | | | نظري | عملي | مجموعه | |
| 1 | ادب تاریخ | LIPA 241 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 2 | منثور متون | LIPA 242 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 3 | نحوه | LIPA 243 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 4 | د ښوونې روزنې بنسټونه | PRED 244 | 2 | 20 | 12 | 32 | مسلکي |
| 5 | فکري پوهنه | SL.IC.0477 | 2 | 32 | 0 | 32 | ټول شمول |
| 6 | ادیان او مذاهب | SL.IC.0478 | 1 | 16 | 0 | 16 | ټول شمول |
| 7 | معاصر تاریخ | SHIS 246 | 2 | 20 | 12 | 32 | عمومي |
| 8 | عربي | LIAR 247 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختیاري |
| 9 | چاپیریال ساتنه | ENV 248 | 2 | 20 | 12 | 32 | عمومي |
| **د ساعتونو او کریډیټونو مجموعه** | | | **19** | **208** | **96** | **304** | |

| پنځم سمستر | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | د مضمون نوم | مضمون کود | د کریدیت تعداد | د ساعتونو تعداد | | | ملاحظات |
| | | | | نظري | عملي | مجموعه | |
| 1 | ادب تاریخ | LIPA 351 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 2 | منظوم متون | LIPA 352 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 3 | لغت پوهنه | LIPA 353 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 4 | ماشوم ادب او فولکلور | LIPA 354 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 5 | کلتور تاریخ | LIPA 355 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 6 | د پښتو ژبي تاریخ | LIPA 356 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 7 | د تدریس عمومي میتود | PRED 357 | 2 | 20 | 12 | 32 | مسلکي |
| 8 | د اسلام سیاسي نظام | SL.IC.0579 | 2 | 32 | 0 | 32 | ټول شمول |
| 9 | د اسلام اداري نظام | SL.IC.0580 | 2 | 32 | 0 | 32 | ټول شمول |
| **د ساعتونو او کریدیټونو مجموعه** | | | **21** | **234** | **102** | **336** | |

| شپږم سمستر | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | د مضمون نوم | مضمون کود | د کریدیت تعداد | د ساعتونو تعداد | | | ملاحظات |
| | | | | نظري | عملي | مجموعه | |
| 1 | ادب تاریخ | LIPA 361 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 2 | منثور متون | LIPA 362 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 3 | ادبي کره کتنه | LIPA 363 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 4 | قافیه پوهنه | LIPA 364 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 5 | سبک پوهنه | LIPA 365 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 6 | تاریخي مقایسوي ژبپوهنه | LIPA 366 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 7 | ارزیابي | PRED 367 | 2 | 20 | 12 | 32 | مسلکي |
| 8 | د اسلام اقتصادي نظام | SL.IC.0681 | 2 | 32 | 0 | 32 | ټول شمول |
| **د ساعتونو او کریدیټونو مجموعه** | | | **19** | **202** | **102** | **302** | |

| اووم سمستر | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | د مضمون نوم | مضمون کود | د کریدیت تعداد | د ساعتونو تعداد | | | ملاحظات |
| | | | | نظري | عملي | مجموعه | |
| 1 | ادب تاریخ | LIPA 471 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 2 | منظوم متون | LIPA 472 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 3 | د ژبي د تدریس اصول | LIPA 473 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 4 | څېړنه | LIPA 474 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 5 | پایلیک(مونوګراف) | LIPA 475 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 6 | قرآن او معاصر علوم | SL.IC.0782 | 2 | 32 | 0 | 32 | ټول شمول |
| 7 | تعلیمي تکنالوژي | PRED 477 | 2 | 20 | 12 | 32 | مسلکي |
| **د ساعتونو او کریدیټونو مجموعه** | | | **18** | **192** | **96** | **288** | |

| اتم سمستر | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | د مضمون نوم | مضمون کود | د کریدیت تعداد | د ساعتونو تعداد | | | ملاحظات |
| | | | | نظري | عملي | مجموعه | |
| 1 | ادب تیوري | LIPA 481 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 2 | تدریس اموزي | LIPA 482 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 3 | خوشحال پېژندنه | LIPA 483 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 4 | د ژباړي فن | LIPA 484 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 5 | وزنپوهنه(شعر پېژندنه) | LIPA 485 | 3 | 30 | 18 | 48 | اختصاصي |
| 6 | حماسي ادبیات | LIPA 486 | 2 | 20 | 12 | 32 | اختصاصي |
| 7 | اسلامي تمدن | SL.IC.0883 | 2 | 32 | 0 | 32 | ټول شمول |
| 8 | تربیتي اداره | PRED 488 | 2 | 20 | 12 | 32 | مسلکي |
| **د ساعتونو او کریدیټونو مجموعه** | | | **19** | **202** | **102** | **304** | |

**نوټ: د پښتو څانګي کتلاک د پوهنځی د علمي شورا د (۱۴۰۱/۰۹/۳۰) نېټي په (۱۳) نمبر غونډه کي په تائید او تصویب سو.**

## د ښوونې او روزنې پوهنځی د رئیس پیغام

ښوونه اوو روزنه د هري ټولني د پرمختګ بنسټ جوړوي، ځکه د هري ټولني د پرمختګ یوازینی عامل د ټولني د راتلونکو نسلونو د هر اړخیزي روزني سره مستقیم تړاوو لري. هیڅ داسي یوه ټولنه یا هیواد د نړۍ د نقشي پر مخ وجود نه لري چي بغیر له ښووني او روزني دي د پرمختګ لوړو پوړونو ته رسېدلې وي. د وخت د مطالعاتو پر بنسټ ویلی سو هغه هیوادونه چي پرمختللی/مخ پر ودي اقتصاد، سیاست او ټکنالوژي لري هغوی د خپل پرمختګ اساسي بنسټ (ښووني او روزني) ته ډېره پاملرنه کړې ده. د نړۍ اوسني پرمختللي نظامونه په

اداره

مطالعه

تفکر

ابتکار

کار او زیار باندي تر دې ځایه رسېدلي دي، چي هم یې د خپل ځان او هم یې د خپل راتلونکي لپاره د ژوندانه ډېر ښه او پرمختللي سهولتونه برابر کړي دي.

موږ د هیواد د پرمختګ دې بنسټ او د مسلکي ښوونکو روزلو ته ژمن، د دې هیواد د لا ابادۍ په موخه د هیواد په کچه د تحصیلي مرکزونو د روزونکو روزلو ته غاړه ایښې ده، چي د وخت او زمان سره سم د نویو مېتودونو، دیني او عصري زده کړو او تکنالوژۍ پر مټ د خپل راتلونکي نسلونو روزونکي څنګه چي باید وي همغه سي وروزو او د زورېدلي او کړېدلي هیواد د هر مور او پلار ارمان چي د راتلونکونسلونو روزنه ده په بشپړه توګه ور پوره کړو او د خپل هیواد راتلونکي ستوري د هیواد سیمي او نړۍ په کچه وځلوو او نړۍ ته د خپلو وړتیاوو د ښودلو ور پرانیزو.

**د یو آباد او سوکاله افغانستان په هیله**

**نقیب الله «حمزه»**

**د ښوونې او روزنې پوهنځی سرپرست**